# الوکیل

مصنف: جی کرسچین

ناظم: م ـ ع ـ تائب

# الوکیل

راویان هسی رنګ کاندی روایت
په یو کلي کښی یو کس بلند همت

او سیدلو په احمد نامه موسوم
چه هر خوا په شرافت کښی وه معلوم

چه استاد وه د یو خای په مدرسه کښی
منهبك وه د تدریس په تلوسه کښی

چه به کار دی مدرسی شه څه وخت خلاص
نور به خپل کور ته راغی؛ په اخلاص

بیا ویل به یی په کور کښی کتابونه
که به چا تری پرسان وکړ له مضمونه

چه دا څه رنګ کتابونه دي حال وایه
ده به هرګز ورته نه ویل نیك رایه

یوه ورځ وشو په هسی شان کار
چه یو څو کسان شو هلته رادوځار

وو هغوی سره د خپل دین کتابونه
چه یی خلکو له ورکول له خپل قانونه

په بابت کی د عیسی علیه السلام
وی خبری په هغی کی په اقسام

هسی شان هغوی هم مدرسی ته ننوتل
له سلام پس احمد تری واخیستل

وه لایق چه څه قدر یی ولوستنه
په ښه شان یی په مطلب ورسیدنه

هم چه دادي عیسایان د عیسایت
د تبلیغ لپاره ګرځي په نیك نیت

نور هغوی وته یی وکړ دا مذکور
چه زما چای به څښی تاسو ضرور

هغوی وی مهربانی تول شو روان
د احمد دیری ته راغلل په هغه آن

احمد وویل د چای دپاره کور
بیانی دوی نه پرسان وکړ په نیك طور

خما هم دا شوق له ډیری مودی شینه
چه خپل خان کړم خبر ستاسو له دینه

ما هم ستاسو لوستي دي ډیر کتابونه
خو له هغوی نه ماته ښکاري له قرینه

څه خیالات چه خلق کړي په عیسایت
له هغوی زه غلط وینم په کثرت

مګر بیا هم په کښی شته یو څو خبری
چه زما له عقله دي تر اوسه لری

که ما پوه کړی د هغی په مضمون
نور به زه بیحده شم ستاسو ممنون

وه هغوی کښی یو سپین ږیری ابراهیم
چه پوره وو په کامل عقل سلیم

هغه وی مونږ په شوق خبری کړونه | وجه دا مونږ ه خپل فرض ګڼونه
احمد وی اول دا سوال کړم روشن رای | چه منئ تاسو یو بر حق خدای
وایئ بیا ورته پلار، زوی، روح القدس | په دی خای کښی یو لوی سوال وارد شه اوس
چه منی تاسو عیسی علیه السلام | هر یو کس ته دا خبره شوه اعلام
چه هغه په دی دنیا راغئ تیر شه نه | خو دا روح القدس څه څیز دئ ښادمنه
چه هر څوك د پاك انجیل مطالعه کړینه | په هغه کښی د روح ذکر لږ راځینه
کله روح د عیسی کله د رب روح دئ | کله روح القدس کله روح ممدوح دئ
تاسو وکړئ شفقت په دی زمان | د دی روح ما وته وکړئ ټول بیان
ابراهیم ویل په طور د خپل ایمان | زه به تاوته دا راز کړمه عیان
ولیکن ورمبئ یو سوال کړم با تمیز | راته وایه د انسان روح دئ څه څیز
کله مونږه ژوندون یا ځان یادوونه | کله نوم ورله د عمل ورکوونه
کله روح هغه ته وایي د انسان | کله کله په څه بل نوم شي روښان
که څه هم ټول نومونه دي جدا جدا | مګر ته ئی تمیز ښکاره کړه په رښتیا
احمد وی دا ناممکنه راښکاریږي | که هر څو په بیل بیل نوم سره یادیږي
که څوك ځان او که څوك ژوند او که روح وایي | مګر ټول په یو نوم نمائي
سبب دا چه په ظاهر کښی وي یو څیز | ځکه هیڅوك په کښی کړئ نه شي تمیز
ابراهیم وی ته منی چه روح یادیږي | نو هیڅوك ئی خاص مطلب ته نه رسیږي
دا منم خو د روح القدس بیان | راته وکړه چه لری پری ته ایمان
هغه څیز چی د ایمان خالص جز وینه | ضرور دي چه پر منونکي خبر شینه
پاتی شه د بني آدم د روح بیان | د ایمان خبره نه ده په هیڅ شان
ابراهیم وی نه منم زه دا خبره | که د خدای ټول بیان وکړی برادره

زه به هله راوړم په هغه ایمان　　او که نه نو بیا فضول شه ټول بیان

احمد وی ته رښتیا وایی له مضمونه　　و لیکن ښکاره د رب دي صفتونه

هم کارونه د هغه ټول دي معلوم　　هم یی پیژني انسان په هر مفهوم

ابراهیم ویل له ما واوره بیان　　اوس شته په دنیا کښې ډیر کسان

چه شته والی د الله هم نه منینه　　په عقلي بیان هم دا ثابتوینه

فرض کړو که ورته وکړی دا بیان　　چه خالق دئ خدای د ځمکی او آسمان

نور هغوی به درته ژر درکړي خواب　　چه ثبوت د دی هیڅ نشته ای جناب

ارض سما هم د جهان په عام طریق　　خپل کارونه او گردش کړي په تطبیق

احمد وی آفرین وایم برادره　　زه منم رښتیا دی وکړه دا خبره

دا خبری همگي دي د ایمان　　چه هر څوك وي ایماندار مني هر آن

بی ایمانه بی مذهب خدای نه منینه　　خدای لاځه چه د هیڅ څیز قائل نه وینه

ابراهیم بابا وی اوس ورسیدلو　　د ایمان له خاص مطلب نه خبر شولو

اوس چه اورو دا چه وائي عیسایان
چه لرو په روح القدس مونږه ایمان

ده په دی کښی خاص ورومبی خبره دا　　چه دئ دا کلام د پاك مسیح عیسی

یعنی پاك عیسی څو خله په هوس　　ذکر کړئ د پاك روح القدس

احمد وی مگر عیسی علیه السلام　　هرگز نه دئ کړئ خپله دا کلام

چه یو خدائ هم جوړ کړئ روح القدس　　بلکه دا تاسو له خان جوړ کړ اوس

ابراهیم وی که اوس ما دا ومنل　　چه مسیح په خاص الفاظو مکمل

صاف صاف دا نه دی ویلي په خپل فهم　　مگر بیا هم زه دا تا ته ویلئ شم

پاك عیسی دا رنگ کړئ دئ بیان　　چه صاف صاف تری معلومیږي په ښه شان

# الوکیل

چه هم ذات د روح القدس ذات د خدایٔ — سره یو دي په صفاتو کی نیك رایٔ
یعنی څه کار اوصاف چه د مولا دي — هغه وارہ د روح القدس په ربښتیا دي
نو چه دا رنګ شو مونږ وته معلوم — خود په ښه شان مونږ پوه شو په مفهوم
احمد وی صاحبه سوال کومه دا — په انجیل شریف کی دا ذکر صفا
او که نشته ما خبر کړه په احوال — چه له زړه نه می ورك شي د شك جنجال

## اوله خبره

ابراهیم بابا بیا توئی کړی مرغلری — دی احمد ه پکښی شته دوه خاصی خبری
اول دا ده چه د هر یو روح بیان — د انسان د پاره دیٔ بیحده ګران
چه نه پوهیږو مونږه د خپل روح په بیان — په روح القدس به پوه شو په څه شان
دا خبره ده انسان ته ناممکنه — چه د روح په حال کامل پوه شي ښادمنه

## دویمه خبره

دویمه داده چه عیسی په خپله وایي — د روح القدس په شان کښی دا فرمایي
چه هغه به په هیڅ رنګ او په هیڅ شان — کلام نه کوي په حق کی د خپل ځان
مګر هغه به له پاك عیسی خبری — اخلي ښایي به بنیادم ته نژدی لری
احمد ووی په خندا بابا څه وایی — عجائب الغرائب راته فرمایی
یعنی هغه هسی رنګ پټوي ځان — چه هرګز پری پوهیدیٔ نشي انسان
ابراهیم وی تا دي خپله فرمانلي — ما خو هرګز دا رنګ نه دي ویلي
که یو کس جوړ کړي عظیم الشان مقام — څوك خپل بت نه جوړوي د هغی په بام
د مقام جوړول دي د هغه کار — او د هغه صفت دیٔ خلکو ته اظهار

او که نوم د هغه شي د خلکو هیر      مفتي کار یی ولاړوي په زور و زیر
چه هر څوك د هغی خوا لره را ځینه      بی پوښتنی ئی په لیدو صفت کوینه
احمد وی ښه ده مگر روح القدس      بیا څه کار کوي ښکاره کړه ما ته اوس
څه رنگ اخلي د عیسی مسیح خبره      په څه شان ئی بنیادم ته کړي ظاهره
او هم دا خبره کړه په ما اعلام      چه د روح القدس چرته دئ مقام
ابراهیم وی د هغه کار مقرر دئ      په دنیا کی په کروړونو هم اظهر دئ
په جهان کی چه هر څومره عیسایان دي      هغه ټول د هغه د هر کار قائلان دي
احمد وی بابا پوه نه شوم په خبره      تکلیف وکړه په ښه شان یی ما ته کړه ظاهره
ابراهیم ویل غوږ کیږده بیان کړمه      د عیسی مسیح الفاظ دریادومه
کړئ دئ حضرت عیسی هسی گفتار      چه د روح القدس دئ دری قسمه کار
اول دا دئ غوږ پری کیږده له یقینه      چه په هر بني آدم باندی گناه ثابتوینه
یعنی خاص ثابتوي دعغوی عصیان      چه په عیسی باندی څوك نه راوړي ایمان
اوس چه مونږ تاریخ ته وکړو یو نظر      او هم گورو زمانی ته لر او بر
په دنیا که چیری یو کس په اقرار      په ښتیا سره گڼي خان گناه کار
نور هغه کس به په هیڅ طریق هیڅ طور      په دنیا تسلي نه مومي هیڅ لور
په توبه تر څو رانشي پاك عیسی ته      ای احمده دا ښتا وایمه تا ته
احمد وی مسلمانان د ټول جهان      همیشه گڼي خپل خان گناه کاران
اوس ته څه وایی په دی کښی ما خبر کړه      تراره می له زړگي ځنی بهر کړه
ابراهیم وی ښتیا په یو ساعت وائي      خو په بل ساعت پاك رب تش رحیم ستائي
یعنی خدای به مونږ بالکل کړي معاف      له گناه ځنی به مونږ بچ شو صاف
یو دا خیال هم چری نه کوي هیڅ شان      چه گناه خو غرقوي بالکل انسان

مگر دا کار خو په تش کوشش نه کیږي    لیکن دی کښې بـل مدد هم پکاریږي

او هغه مدد دی خاص روح القدس    چه گناه ثابتوي اوس په یو کس

چه گناه پری ثابت کړي هغه انسان    زره کښې هم غرق گنیږي هغه خپل خان

تش په رحم د هغه تسلي نه شي    نه به بیا په نورو وچو وعدو ښه شي

بی له دی چه ایمان راوړي په مسیح    او د زړه تسلي بیا مومي صحیح

احمد وی و ښه ده پوه شوم په گفتار    اوس د روح القدس وایه دویم کار

ابراهیم وی دویم کار دا پاك روح کړینه    بنیادم ته صداقت ربي ښئینه

یعنی دا چه مسیح راغی په جهان    په څه طور کارونه شوو تری نه عیان

په څه شان ئی د عامي انسان د پاره    خپل خان ورکړ په فدیه کی له یو واره

یا له مړو نه راژوندي لاړ شه آسمان ته    عجیبه انصاف یی وښایه انسان ته

که ته خیال وکړی اکثر مسلمانان    لاندی باندی گډوډ کړي د هغه بیان

مگر هغه څوك چه داسی خیال لرینه    چه گناه می د رنگ ساعت له غرقوینه

هغه حال کښی هغه راشي پاك عیسی له    په قلبي توبه ایمان راوړي فی الحاله

روح القدس هغه دم ورله راخینه    صداقت پری د مسیح ثابتوینه

چه له خنی لاړ شي تول شکونه    تمام عمر تسلي کښی وي ممنونه

احمد وی دریم کار څه دي راښکاره کړه    د زړگي می پاتی ورکه تراره کړه

ابراهیم وی دریم دا په انسان اوس    عدالت ثابتوي روح القدس

د دنیا د سردار اوس هم عدالت    شوی دی خان پری خبر کړه دا ساعت

احمد وی دا معما نیك صفاته    نه پوهیږم صاف مطلب ووایه ما ته

ابراهیم وی چه سردار د دی جهان    ابلیس دی چه ملعون کړی دی سبحان

په هغه اوس حکم شوی دی غرق به شینه    چه په کوم انسان روح القدس راځینه

هر گناه په هغه کس ثابستوینه　　یو آن کی نی په هغی شرمنده کړینه

وایی پریږده دا خوده د شیطان لار　　هغه کس هغه دم پریږدي هغه کار

احمدوی پوه شوم که څوك عیساني شینه　　ستا مطلب دئ دغه کار به خدای کوینه

مگر زه هسی رنگ وینم ډیر کسان　　چه مطلب لپاره ښکاري عیسایان

ابراهیم وی دا مطلب نه دئ زما　　هغه کس چه تش نوم اخلي د عیسی

مونږ ته ښکاري دا بالکل دئ د رب کار　　و لیکن د روح القدس دئ اظهار

وجه دا چه د مسیح ربښتین کلام　　روح القدس په دی کس کړلو اعلام

په تاثیر د روح القدس دغه کس　　د عیسی مسیح مرید شه په هوس

احمد وی زما یو سوال په دی گفتار دئ　　تاسو وایی د روح القدس دا کار دئ

ما کړه پوه تاسو ته څنگه معلومیږي　　چه دا کار اوس له روح القدس نه کیږي

ابراهیم وی معلومیږي هسی شان　　چه لرو مونږ په عیسی مسیح ایمان

هغه خپله هسی کړی دئ فرمان　　که په داسی رنگ کار شي نمایان

نور هغه به له روح القدس نه وینه　　چه څوك هغه کار کیدونکی ووینینه

ژر بی یاد شي خاص فرمان د پاك عیسی　　یقین وکړي چی داده بالکل ربښتیا

احمد وی که عیسایان شي څوك یو خل　　روح القدس وړاندی څه کړي که نه کړي تل

ابراهیم ویل احمد بلند اقباله　　روح القدس زمونږ مدد کړي له هر حاله

د مسیح خبری ښایي مونږ ته تل　　نن په یو طرف سبا په بل څه چل

د کلام بیان نن ما ته ښکاره کړي　　سبا نور د هدایت تا ته ښکاره کړي

هسی شان هغه زمونږ هدایت کړینه　　ټول عیسایان خپل لاس کښی ساتینه

احمد وی صاحبه پوه شوم وایه نور　　وروستنی تقریر دی وکړه په ښه طور

ابراهیم وی پاك روح دا کار هم کوینه　　چه په مونږ زمونږ گناه ثابستوینه

سبب دا چه پاك خو نه یو له ګناه     په اقسام بدی له مونږ شي خواه مخواه

کله ګناه کړو د ګاونډي کله د ورور     کله شك راځي او زړه کړي زمونږ تور

کله مونږ په خپل اعمال کوو توکل     کله نا امیده شو په بل څه چل

مخالف شو کله له ربي احکام     ډیر عصیان کړو له سحر نه تر ماښام

دا تمام په مونږ پاك روح ثابتوینه     چه تري مونږ بیا توبه ګار شو له یقینه

پوخ توکل وکړو په پاك مسیح عیسی     چه آخر هغه به مو خلاص کړي په رښتیا

احمد وی په دی و کړم به فکر خیال     که موقع کړه چیری پیښنه ذوالجلال

مونږ به وکړو بیا په دی نوری خبری     اوس هم تاسو روانیږئ خای دئ لری

ټولو وی د تکلیف شکرګزار یو     هم ممنون مسرور ستا د دی ګفتار یو

له دستي سلام پس لاړل عیسایان     او احمد فکر کښی پاتی شه حیران

هر چیری چه به یی په روح خیال زغلونه
لکه ټال په تعجب کښی ځنګیدنه
ای تانبه د روح سوال هسی شان ګران دئ
حل کیدلئ هرګز نه شي له انسان، دئ

لمړۍ چاپ: ۱۹۳۴
دویم چاپ: ۱۹۵۰
دریم چاپ: ۲۰۰۲

ناشر: روشن بُکس
د چاپ کال: ۲۰۰۲ میلادي

Printed at: PanGraphics (Pvt) Ltd., Islamabad